# د ټولو آخِري نبي صلی الله علیه وسلم



پښتو


شیخ طریقت، امیر اهلسنت، بانئ دعوتِ اسلامي، حضرت علامه مولانا ابو بلال

محمد الیاس عطار قادري رضوي

دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ،
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د ټولو آخِري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

يا رَبَّ الـمُصطَفٰی! څوک چې دا رساله " د ټولو آخِري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم " اولولي يا ئې واوري هغه بے حسابه اوبخښې او په جنَّتُ الفِردَوس کښې ئې د خپل د ټولو نه آخِري نبي، مکّي مدَني، مُحَمَّدِ عَرَبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاؤنډي جوړ کړې. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شريف فضيلت

**فرمانِ مصطَفٰی** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم : اے خلقو! بے شکه د قيامت په ورځ به د هغې د ويرې او حساب کتاب نه زر خلاصے موندونکے هغه کَس وي چا چې په تاسو کښې په ما باندې په دنيا کښې ډير **دُرُود شريف** وئيلے وي.
(اَلفِردَوس بماثور الخطاب ج5 ص: 277، حديث: 8175)

## حضرتِ جِبريل عَلَيْهِ السَّلَام سلام وائي (واقعه)

د اللّٰه پاک خوږ خوږ د ټولو نه آخِري نبي، مکّي مدَني، مُحَمَّدِ عَرَبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: جِبريل حاضِر شو او ما ته ئې داسې سلام اوکړو: اَلسَّلَام عَلَيْکَ يَا ظَاهِرُ، اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَا بَاطِنُ، ما اووئيل: اے جِبريل! دا صِفتونه خو د اللّٰه پاک دي چې هُم د هغه لائق دي زما په شان مخلوق د پاره څنګه کيدے شي؟ جبريل عَرض اوکړو: اللّٰه پاک تاسو ته په دې صِفتونو فضيلت درکړو او په ټولو اَنبياء او مُرسَلين (عَلَيهِمُ السَّلَام) باندې ئې د دې په ذريعه خصوصيت درکړو او د

خپل نوم او وَصف (يعني صِفَت او خوبۍ) نه ئې ستاسو نوم او وَصف راويستلے دے. اللّٰه پاک ستاسو نوم "اَوَّل" کيښودو ځکه چې تاسو د ټولو انبيائے کرامو نه د پيدائش په لحاظ سره اَوَّل يعني وړومبې ئې او ستاسو نوم ئې "آخِر" کيښودو ځکه چې تاسو د ټولو انبيائے کرامو د زمانے نه په آخِر کښې تشريف راوړونکې ئې او **تاسو د آخِري اُمّت آخِري نبي ئې**. اللّٰه پاک ستاسو نوم "**باطِن**" کيښودو ځکه چې اللّٰه پاک د خپل نوم سره ستاسو نوم د سرو زرو په نور د عرش په ښپه باندې د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د پيدائش نه 2 زره کاله **مخکښې** د هميشه هميشه د پاره اوليکلو بيا ئې ما ته په تاسو باندې د دُرُود شريف ليږلو حکم اوکړو نو ما په تاسو باندې يو زر کاله دُرُود او يو زر کاله سلام اوليږو تر دې چې اللّٰه کريم تاسو زيرے ورکوونکے او ويره اوروونکے او د اللّٰه په لور د هغه په حکم رابللو والا او پړقيدونکے لمر جوړ کړئ او را اوئې ليږلئ او اللّٰه پاک ستاسو نوم "**ظاهِر**" کيښودو چې هغه تاسو ته په ټولو دينونو باندې غَلَبه عطا کړله او ستاسو شريعت او فضيلت ئې د زمکې او آسمان په ټول (مخلوق) باندې ظاهِر کړلو نو داسې هيڅ خوک پاتې نه شو چې په تاسو باندې ئې دُرُود نه وي راليږلے، اللّٰه پاک دې په تاسو باندې دُرُود (يعني رَحمت) راوليږي. پس ستاسو رَبّ مَحمود (يعني تعريف کړے شوے) دے او تاسو "**محمد**" (يعني تعريف کړے شوي ئې)، ستاسو رَبّ "**اَوَّل او آخِر، ظاهِر او باطِن**" دے او تاسو هم (د خپل رَبّ په عطا سره) "اَوَّل او آخِر، ظاهِر او باطِن" ئې. (دا مې چې واوريدل) نو ما اووئيل: ټول تعريفونه هغه لره دي چا چې ما ته په ټولو انبيائے کرامو (عليهِمُ السَّلام) باندې فضيلت عطا کړو تر دې پورې چې زما په نوم او صِفَت کښې (ئې هم په ټولو باندې فضيلت راکړو).

(شرح الشفاء، ج: 1، ص: 515، فتاویٰ رضويه، ج: 15، ص: 663 نه خلاصه)

# اَلْحَمْدُ لِلّٰه مونږ د آخِري نبي اُمَّتيان يُو

اے د آخري نبي عاشقانو! د اللّٰه پاک په مونږه ګنهګارانو باندې ډېر لوئ فضل او احسان دے چې هغه مونږه د خپل خوږ خوږ د ټولو نه آخِري نبي، مکّي مدَني، مُحَمَّدِ عَرَبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّتيان جوړ کړو. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الکريم! زمونږه خوږ آقا، مکّي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو رسولانو او نبيانو نه افضل دے او د اللّٰه رَبُّ العِزّت په رَحمت سره د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په برکت د هغوئي اُمَّت د مخکښينو ټولو اُمَّتونو نه بهتر دے.

سارے رسولوں سے تم برتر، تم سارے نبیوں کے سَرور
سب سے بہتر اُمّت والے، صلّی اللّٰہ علیک وسلّم

(سامانِ بخشش، ص: 93)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## اَهم ترين فرض

اے عاشقانِ رَسُول! مُحَمَّدٌ رَّسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اللّٰه پاک د ټولو نه آخِري نبي منل د دين د ضرورتونو نه دي، ځوک چې د دې نه انکار اوکړي يا په دې کښې د يوې ذرے برابر شک هم اوکړي هغه د اسلام نه خارج، کافِر او مُرتَد دے. اللّٰه پاک په سيپاره 22 سُوْرَةُ الْاَحزَاب، آيت نمبر 40 کښې ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَاۤ اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَ لٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَ خَاتَمَ النَّبِيّٖنَ ؕ وَ كَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِیْمًا ﴿۴۰﴾ | آسانه ترجَمَةُ القرآن كَنزُ العِرفان: محمد ستاسو په نارينؤ کښې د چا پلار نه دے خو د اللّٰه رسول دے او د ټولو نبيانو په آخِره کښې تشريف راوړونکے دے او اللّٰه پاک په هر څه پوهه دے. |

# شَرحِ آيَت

حضرت علّامه سيِّد محمد نعيمُ الدِّين مُراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په ”خَزائِنُ الْعِرْفان“ کښې د آيت د دې حصے ”وَخَاتَمَ النَّبِیّٖن“ په تفسير کښې ليکي: يعني مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم آخِري نبي دے چې بس نور به د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه پس بل يو نبي نه راځي او نُبُوَّت په هغوئي باندې ختم شوے دے او د هغوئي د نُبُوَّت نه پس چاته هم نُبُوَّت نه شي ميلاويدے تر دې پورې چې کله حضرت عيسٰی عَلَيْهِ السَّلَام نازليږي اګرچه مخکښې نُبُوَّت هغوئي ته ميلاو شوے دے خو د نُزول نه پس به په شَرِيعتِ محمّديه باندې عمل کولو والا وي او د هُم دې شريعت حکم به کوي او د هغوئي (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د قِبلے يعني د کعبے شريفې په لور به لمونځ کوي، (ياد ساتئ!) د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم آخِري نبي کيدل قَطعي (يعني يقيني) دي (او دا قَطعيّت (يعني يقيني کيدل) د قرآن او حديث نه ثابِت دي)، د قرآنِ مجيد صَرِيح (يعني صفا) آيَت هم موجود دے او حديثونه د تواتُر[1] تر حده پورې رسيدلي دي، د دې ټولو نه ثابِت دي چې حُضُورِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **د ټولو نه** آخِري نبي دے او د دوئي نه پس څوک نبي کيدونکے نه دے. څوک چې د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نُبُوَّت نه پس بَل چاته نُبُوَّت ميلاويدل ممکن اوګڼړي هغه د خَتمِ نُبُوَّت مُنکر، کافِر او د اسلام نه خارِج دے.

(خزائن العرفان ص: 763، صراط الجنان، ج: 8، ص: 47 ملتقطاً و ملخصاً)

---

[1] حديثِ مُتَواتِر: داسې حديث د کوم روايت کوونکي چې په هره زمانه کښې دومره ډير وي چې د هغوئي په دروغو (يعني په خلافِ واقعه خبره) باندې اِتفاق کول عادتاً ممکن نه وي۔
(منتخب حديثين، ص: 25 نه خلاصه)

## د خاتَم مطلب

الحاج مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ”خاتَم“ د خَتم نه مُشتَق (يعني وتلے) دے، او د خَتم معنٰى د مُهر او د آخِري ده، بلکه مُهر ته هم خاتَم په دې وجه وئيلے شي چې هغه د مضمون په آخِره کښې لګولے شي يا دا چې په يوه تهيلئ باندې مهر (SEAL) اولګيدو نو بيا يو څيز هم [هغې ته] د بهر نه دننه او د دننه نه بهر نشي تلے، هُم دغه شان دا آخِري مهر اولګيدو، د باغِ نُبُوَّت آخِري ګُل اوسپړدلے شو، پخپله حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خَاتَمُ النَّبِيّن معنٰى بيان فرمائيلې ده چې لَا نَبِيَّ بَعدِي يعني زما نه پس بَل نبي نشته.

(شانِ حبيب الرحمٰن، ص: 171)

بعد آپ کے ہرگز نہ آئے گا نبی نیا
وَاللہ! ایماں ہے مرا، اے آخِری نبی

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب     صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ځناورئې هم آخِري نبي مني (واقِعه)

د حضرت عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې د بني سُليم قبيلے يو اَعرَابِي (يعني د عربو د کلي اوسيدونکے) د نبيِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې حاضِر شو او اوئې وئيل: زه به تر هُغه وخته پورې په تاسو باندې ايمان رانوړم، تر څو چې زما دا ”سَمسيره“ په تاسو ايمان رانوړي. دا ئې اُووئيل او سَمسيره ئې د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مخې ته کينبودله. هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سَمسيرے ته غږ اوکړو نو هغې لَبَّيْکَ وَسَعدَيْک (زه حاضِره يم او د فرمانبردارئ د پاره تياره يم) په دومره تيز آواز اووئيل چې ټولو حاضِرو خلقو واوريدل. بيا ترينه

هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پوښتنه اوکړه: ستا مَعبود (يعني د عبادت لائق) څوک دے؟ سَمسيرے جواب ورکړو: زما مَعبود هغه دے چې د هغه عَرش په آسمان کښې دے او هُم د هغه بادشاهي په زمکه کښې ده، د هغه رحمت په جنّت کښې دے او د هغه عذاب په دوزخ کښې دے. بيا ترينه هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پوښتنه اوکړه: اے سَمسيرے! دا اووايه چې زه څوک يم؟ سَمسيرے په تيز آواز اووئيل: اَنْتَ رَسُوْلُ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ، وَخَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ، يعني تاسو د اللهُ رَبُّ الْعَالَمِيْنَ رسول او آخِري نبي ئي. چا چې تاسو رښتونے اومنلو هغه کامياب شو او چا چې تاسو دروغ اوګڼړلو هغه نامُراده شو. دا ئي چې اوليدل نو اَعرابي دومره متاثره شو چې فوراً ئي کلمه اووئيله او مسلمان شو.

(معم اوسط، ج: 4، ص: 283، حديث: 5996 مختصراً)

اے بلا! بے خِرَدیِ کُفّار، رکھتے ہیں ایسے کے حق میں اِنکار
کہ گواہی ہو گر اُس کو درکار، بے زباں بول اُٹھا کرتے ہیں

(حدائقِ بخشش)

شَرحِ کلامِ رضا: د الله پاک د خوږ آخِري نبي، مکّي مدَني، مُحَمَّدِ عَرَبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه منونکي څومره بے وقوفه او نادانه دي، حالانکه که چرې زمونږه خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپلې رښتيا او آخِري نبي کيدو ګواهي ورکول غواړي نو بے زبانه څناور وغيره هم د ګواهئ د پاره خبرې کوي.

## د عقيدهٔ ختمِ نُبُوَّت اهميت

اے د آخِري نبي عاشقانو! د عقيدهٔ ختمِ نُبُوَّت نه مُراد دا منل دي چې زمونږه خوږ آقا، مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو نه آخِري نبي دے. الله پاک د حُضُورِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ذات باندې د نُبُوَّت سلسله ختمه کړې ده. د نبوئ

کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ظاهري ژوند د زمانے نه واخله تر قيامته پورې بَل هيڅ څوک نوے نبي نه شي کيدے. د حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام په تشريف راوړلو به د ختمِ نُبوَّت په عقيده کښې هيڅ فرق نه پريوځي ځکه چې د **خَاتَمُ النَّبِيّين** معنیٰ دا ده چې د مُحَمَّدِ عَرَبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ظُهور نه پس به چاته نُبُوَّت نه ميلاويږي، حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام مخکښينے نبي دے، هغوئي به د نبي په حيثيت د خپل شريعت تبليغ نه کوي بلکه د **اللّٰه پاک** د ټولو نه د **آخِري نبي**، مُحَمَّدِ عَرَبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په شريعت باندې به [پخپله هُم عمل کوي او] خلقو ته به هُم پرې د عمل کولو حُکم فرمائي. لکه چې هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام به د هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمَّتي په حيثيت راځي. (تفسير نسفي، ص: 943 وغيره نه خلاصه) ياد ساتئ! انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَام ته چې کوم نُبوَّت ميلاو دے د هغوئي نه به نُبُوَّت نه ختميږي بلکه د هميشه پاره به د هغوئي نُبوَّت قائم وي. "فتاوىٰ رضويه" جلد 29 صفحه 110 نه په 111 کښې دي: "هيڅ کله نه! نه يو رسول د رسالت نه مَعزُول (يعني جدا، لرې) کيږي نه به سيِّدُنا عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام د رسالت نه معزوله (يعني لرې کولے) کيږي، او نه د حُضُور اُمتي کيدل د رسالت خلاف دي." (فتاوىٰ رضويه) د ختمِ نُبُوَّت د عقيدے هُغه درجه ده کومه چې د توحيد د عقيدے ده يعني دواړه د دين د ضرورتونو دي. لِـهٰذا څنګه چې د مسلمانانو د پاره **اللّٰه پاک** يو منل ضروري دي هم دغه شان د هغه خوږ حبيب حضرت محمّدِ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **د ټولو نه آخِري نبي** منل هم ضروري دي.

## هيڅ دليل به نه غوښتلے کيږي

حضرتِ امام ابو مَنصور ما تُرِيدي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ليکي: څوک چې د حُضُورِ اکرم

صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه پس د نبي راتلو دعویٰ اوکړي نو د هغه نه به هيڅ دليل نه غوښتلے کيږي بلکه د هغه (کَس د عقيدے) نه به انکار کيږي ځکه چې د اللّٰه پاک خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: لَا نَبِیَّ بَعۡدِی يعني زما نه پس بَل نبي نشته.

(تاويلات اهلِ السنة، ج: 8، ص: 396)

## د دروغژن نبي نه مُعجِزه غوښتل څنګه دي؟

د "ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت" د صفحه 134 نه عَرض او ارشاد واورئ، عَرض: (آيا) د دروغژن مُدَّعيِ نُبُوَّت (يعني د نبي کيدو د دروغو دعویٰ کوونکي) نه معجزه غوښتل کيدے شي؟

ارشاد: که چرې د مُدَّعيِ نُبُوَّت (يعني د نبي کيدو د دروغو دعویٰ کوونکي) نه په دې خيال چې د ده عِجز (يعني ناکامي او شکست) ظاهِر شي معجزه اوغواړې نو هيڅ باک نشته، او که چرې د تحقيق د پاره ئې ترينه معجزه اوغوښتله چې دا معجزه هم ښودلے شي که نه، نو فوراً کافِر شو.

(فتاوٰی عالمګيری، ج: 2، ص: 263 ماخوذاً)

## لَا نَبِیَّ بَعۡدِیۡ

اعلیٰ حضرت، امام احمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: چې د حديثِ مُتَوَاتِر "لَا نَبِیَّ بَعۡدِیۡ" يعني " زما نه پس بَل نبي نشته" نه ټول اُمّتِ مَرحُومه (يعني هغه اُمّت په کوم باندې چې د اللّٰه پاک رحمت وي) سَلَفاً وخَلَفاً (يعني وړاندې ورروستو ټولو) هميشه دا معنیٰ اخستې ده چې حضورِ اَقدس صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بِلا تخصيص (يعني بغير چا لره د خاص کولو نه) په ټولو انبياؤ کښې آخِري نبي شولو، د حُضُور

(صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) سره [يعنې حياتِ ظاهري کښې] يا د حضور (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) نه پس د قيامت راتلو پورې چاته نُبُوَّت ميلاويدل ممکن نه دي.

(فتاوٰی رضويه، ج: 14، ص: 333)

سب اَنبیا کے ہو تمہیں سر دار لاجَرم[2]
تم سا نہیں ہے دوسرا، اے آخِری نبی

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د ايمان د سلامتيا د فِکر نه کولو نقصان

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د يو انسان د پاره د ټولو نه قيمتي بلکه بے بها څيز د هغه ايمان دے، د اللّٰه پاک په رحمت سره چې چاته د ايمان دولت حاصِل دے هغه د مال په اعتبار سره اګرچه غريب وي خو د ايمان د دولت نه محرومه کرورړ پتي، ارب پتي ګس نه هم ډير مالداره دے او د اسلام د دولت نه محرومه مالداره په حقيقت کښې غريب دے او مَعَاذَاللّٰه ثُمَّ مَعَاذَاللّٰه په دې حال (يعني د کُفر په حالت) کښې مړ کيدونکے به د هميشه هميشه د پاره په دوزخ کښې وي. هر مسلمان له پکار دي چې هميشه د ايمان د سلامتيا او د ښې خاتمے د پاره د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزّت په بارګاهِ کښې دعا کوي. د فِتنو نه ډک دې دَور کښې چې څنګه په نيکو اعمالو کښې بے حده سستي راغلې ده هُم دغسې د ايمان د حفاظت فکر هم ډير کم شوے دے، هره ورځ نوې نوې فِتنے په مختلفو اندازونو کښې د مسلمانانو ايمان کمزوري کولو کښې مصروفه دي، د ايمان د سلامتيا فِکر ډير ضروري دے، که څوک ټول ژوند په نيکو کښې تير کړي، خو

---

[2] لا جَرَم: يقيناً

خدائے دې نه کړي که چرې خاتِمه ئې په ایمان اونشوه نو همیشه همیشه به په دوزخ کښې پروت وي. د آخِري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالْخَوَاتِیْم. یعنې "د اعمالو دار و مدار په خاتِمه دے."
(بُخاري، ج: 4، ص: 284، حدیث: 6607)

عطّار ہے ایماں کی حفاظت کا سُوالی
خالی نہیں جائے گا یہ دربارِ نبی سے

## د ایمان فکر نه کول اندیښمن دي

د اندیښنے او سخت تشویش خبره دا ده لکه څنګه چې د دنیا د دولت د حفاظت په معامله کښې غفلت د هغې د ضائع کیدو سبب جوړیږي، د دې نه هم سخته معامله د ایمان ده. په "ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت" صفحه 495 کښې دي، علمائے کرام فرمائي: "څوک چې د ایمان نه د خلاصیدو ویره نه لري د ځنکدن په وخت د هغه د ایمان نه د خلاصیدو سخته خطره ده."

مسلماں ہے عطّار تیری عطا سے
ہو ایمان پر خاتمہ یاالٰہی

## سحر مؤمِن او ماښام کافِر

د آخِري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک: "د هُغه فِتنو نه مخکښې د نیکو اعمالو په باره کښې تادي اوکړئ! کومې چې به د تِیارو د شپې د برخو په شان وي. یو انسان به سحر مؤمِن وي او ماښام به کافِر وي او ماښام به مؤمِن وي او سحر به کافِر وي. خپل دین به د دنیا د ساز او سامان په بدله خرڅ کړي."
(مُسلم ص:69، حدیث: 313)

## شَرحِ حديث

شارِحِ مُسلِم، حضرت امام شَرَفُ الدِّين نَوَوِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک په شَرح کښې فرمائي: په دې حديثِ پاک کښې د زر زر نيکو اعمالو د پاره ترغيب ورکړې شوې دې، د دې نه مخکښې چې بنده هٰغه نيک کارونه اونکړې شي او په هٰغو پرله پسې فتنو کښې مشغول شي کومې چې به ډيرې زياتې شي څنګه چې په ډيره تِياره شپه کښې دومره تياره شي چې سپوږمۍ بالکل نه ښکاري، حُضُور سرورِ عالَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هٰغه سختو فِتنو يو قِسم دلته بيان کړې دې او هغه به دومره سختې وي چې په يوه ورځ کښې به د انسان زړه بدل شي او دا ډير غټ بدلون دې.

(شرح مسلم للنووي، ج: 2، ص: 133)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** څومره بد نصيبه دې هغه کَس څوک چې د دنيا د فاني عيش او آرام د پاره مَعَاذَالله د خپل ايمان سودا اوکړي، ايمان خرڅ کړي او کُفر واخلي او د جنّت په ځائے دوزخ خپل کور جوړ کړي. د آخِري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ټولو عاشقانو لره پکار دي چې دا مُسنون دُعا: يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوْبِ ثَبِّتْ قَلْبِيْ عَلٰى دِيْنِكَ يعني اے د زړونو اړوونکيه! زما زړه په خپل دين باندې ثابِت قدم اوساتې.'' ضرور غواړي. الله کريم دې د خپل خوږ آخِري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په وسيله زمونږه ايمان سلامت ساتي او مونږه ته دې په دينِ اسلام باندې استقامت (يعني مضبوطتيا) عطا کړي او مونږ ته دې د ايمان او عافيت سره سره د شين ګنبد په سوري [سايه] کښې د حضور نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

په ننداړو کښې شهادت او په جنَّتُ البقيع کښې دفن کيدل او په جنَّتُ الفردوس کښې د خپل مَدَني حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاؤنډ رانصيب کړې.

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

ہیں غُلام آپ کے جتنے، کرو دُور اُن سے فتنے
بُری موت سے بچانا، مدنی مدینے والے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د يو غيبي بُزُرګ عجيبه واقِعه

صحابيِ رسول حضرت نَضلَه بن مُعاوِيه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د 300 مهاجرو او انصارو سره د حُلوَانِ عراق نه مالِ غنيمت (يعني د کافِرانو سره په جنګ کښې په لاس راغلے مال) راوړلو چې د يو غر سره نزدې پرې مابنام شو نو حضرت نَضلَه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَذان اوکړو، کله چې هغوئي اَللّٰهُ اَکْبَرُ اَللّٰهُ اَکْبَر اووئيل نو د غر نه يو آواز راغلے، چا وئيل: اے نَضلَه! تا د ډير زيات عظمت والا لوئي والے بيان کړو! چې کله هغوئي أَشْهَدُ أَنْ لَّا اِلٰهَ إِلَّا الله اووئيل، نو جواب راغلے: اے نَضلَه! تا خالِص تَوحيد بيان کړو، چې کله هغوئي أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ الله اووئيل نو آواز راغلے: دوئي داسې نبي جوړ کړے شوے دے چې د دوئي نه پس بَل نبي نشته، دوئي ويره اورونکے دے، هم دوئی دے د چا زيرے چې مونږ له حضرت عيسٰی عَلَيْهِ السَّلَام بن مريم راکړے وو، د هم دوئي د اُمَّت په آخِره کښې به قيامت قائميږي. صحابيِ رسول حضرت نَضلَه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې کله حَيَّ عَلَى الصَّلٰوة اووئيل نو

جواب راغلے: لمونځ يو فرض دے، زيرے دے د هغه چا د پاره کوم چې د دې په لور لاړ شي او د دې پابندي اوساتي. چې کله ئې حَيَّ عَلَى الْفَلَاح اووئيل نو آواز راغلے: مُراد ته اورسيدو هغه څوک چې د لمونځ د پاره راغلو او په دې ئې هميش والے اِختيار کړو، مُراد ته اورسيدو هغه چا چې د محمد صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانبرداري اوکړه. کله چې هغوئي اووئيل: اَللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ لَا إِلٰهَ إِلَّا الله نو آواز راغلے: اے نَضلَه! تا پوره اِخلاص حاصل کړو نو الله پاک د دې په سبب ستا بدن په دوزخ باندې حرام کړو. حضرت نَضلَه رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ د لمونځ نه پس اودريدو او اِرشاد ئې اوفرمائيلو: اے په ښکلي انداز کښې خبرې کوونکيه! مونږه ستا خبرې واوريدلې، ته فرښته ئې که پيرے که رِجالُ الغَيب (يعني د سترګو نه پناه انسان)؟ زمونږه مخې ته ظاهر شئ او زمونږ سره خبرې اوکړئ چې مونږ د الله پاک او د هغه د نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او د حضرت عُمر رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ سفيران يُو. دا ئې چې اووئيل نو د غَر نه د يو روښانه مخ او سپينې ګيرې والا مشر [د ډير عمر] بزرګ ظاهر شو هغه د سپينې وَرِئ يو څادر اَچولے وو، چې څنګه راغلو نو سلام ئې اوکړو: السَّلامُ عَلَيۡكُم ورَحۡمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ، هلته موجودو حاضِرينو جواب ورکړو، حضرت نَضلَه رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ ارشاد اوفرمائيلو: الله پاک دې په تاسو باندې رحم اوکړي تاسو څوک ئې؟ هغوئي جواب ورکړو: زه زُرَيب بن ثَرمَلَا يم. د الله پاک نبي حضرت عيسىٰ عَلَيۡهِ السَّلَام ما ته په دې غر کښې د اوسيدلو د پاره فرمائيلي وو او د آسمانونو نه د بيرته تشريف راوړلو پورې ئې زما د ژوند دُعا کړې وه، (په يو بَل روايت کښې دي چې) بيا هغوئي پوښتنه اوکړه: رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چرته دے؟ حضرت نَضلَه رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ اوفرمائيل: هغوئي پرده فرمائيلې ده (يعني د هغوئي ظاهري انتقال شريف شوے دے). په دې

باندې هغه بُزُرګ ډېر زيات اوژړل، بيا ئې اووئيل: د هغوئي نه پس څوک (خليفه) شولو؟ اوئې فرمائيل: (حضرت) ابو بکر (صديق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ). پوښتنه ئې اوکړه: هغوئي چرته دي؟ اوئې فرمائيل: (د هغوئي هم) انتقال شوے دے. اوئې وئيل: بيا څوک خليفه شو؟ اوئې فرمائيل: (حضرت) عمر (رَضِیَ اللهُ عَنْهُ). اوئې وئيل: ''اميرُ المُؤمنين حضرت عُمر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ته زما سلام عرض کړېئ او دا عرض ورته هم اوکړېئ چې اے عُمره! حکومت نيغ ساتئ، د خلقو سره نزدې اوسئ، قيامت رانزدې شوے دے او اے عُمره! چې کله دا خبرې په اُمّتِ محمّدِيه کښې پيدا شي نو بيا د دنيا نه تللو (يعني په مرګ) کښې عافيت دے (په هغې کښې يو څو دا دي:) (1) چې کله خلق خپل نَسب بدلول شروع کړي (يعني خانداني سلسلے مثلاً د نه کيدلو باوجود ځان ته سيّد، صدّيقي، علوي وغيره وئيل) (2) [چې کله خلق] په وَړو باندې شفقت نه کوي (3) د نيکئ حکم نه کوي او د بدئ نه نه منع کوي (4) د مال او دنيا ګټلو د پاره (د دين) عِلم حاصلوي (5) [چې کله] بارانونه ډېر زيات شي (6) اولاد مصيبت جوړ شي (7) جُماتونه ښکلي جوړول شروع شي، خو هغه د لـمونځ کوونکو نه خالي وي (8) رشوت عام شي (9) مضبوط عمارتونه جوړيدل شروع شي (10) د خواهشاتونو تابعداری کول شروع شي (11) د دُنيا په بدله کښې دين خرڅول شروع کړي (12) د خپلوانو سره خپلولي پريښودل عام شي (13) سود خوري زياته شي او (14) صرف مالداري د عزّت سبب جوړه شي. کله چې دا ټولې خبرې عامې شي نو بيا به په تښتيدلو او د يو غَر په غار کښې پټيدلو او هم هلته د الله په ياد کښې مصروفه کيدلو کښې عافيت (يعني سلامتي) وي.'' دا ئې چې اووئيل نو بيا هغه بُزُرګ غائب شو.

حضرت نَضلَه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ دا واقعه په تفصيل سره اوليکله او صحابيِ رسول حضرت سعد بن ابي وَقاص رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ته ئې اوليږله او هغوئي د اميرُ المُؤمنين حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ طرف ته اوليکله. په جواب کښې حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ حضرت سعد بن ابي وقاض رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ته حکم اوکړو چې مهاجِرين او اَنصار صحابهٔ کرام (عَلیهِمُ الرِّضوَان) ځان سره کړئ او هغه غر ته تشريف يوسئ او که چرې هغه بزرګ بيا ميلاؤ شي نو هغوئي ته زما سلام اووائې. حضرت سعد بن ابي وقاص رَضِیَ اللهُ عَنْهُ څلور زره مهاجرين او انصار صحابهٔ کرام (عَلیهِمُ الرِّضوَان) ځان سره کړل او هغه غر ته اورسيدلو او تر 40 ورځو پورې ئې پرله پسې اَذان کولو خو هيڅ آواز يا جواب رانغلو.

(تاريخ بغداد، ج: 10، ص: 254، دلائل النبوة للبيهقي، ج: 5، ص: 425 تا 427، فتاوٰی رضويه، ج: 15، ص: 691 ملخصاً)

د اَللّٰهُ رَبُّ العزّت دې په هغوئي ټولو باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه اوشي.

اٰمِيْن بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

سب صحابہ کا ہے یہ عقیدہ اٹل
ہیں یہ خیرُ الورٰی خاتَمُ الانبیا

## ايمان تازه کوونکے مرکَ (مَدَني سپرلے)

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د ختمِ نُبُوَّت په عقيده باندې د استِقامت حاصلولو او د ايمان د سلامتيا ذهن جوړولو د پاره د عاشقانِ رسول ديني تحريک، ”دعوتِ اسلامي“ د ښکلي ديني ماحول سره هر وخت خپل تړون مضبوط ساتئ.

اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! داسې برکتونه به مو نصيب شي چې د ژوند سره سره به مو مرګ هم د رشک قابِل وي، ستاسو د ذوق او شوق زياتولو د پاره يو مدني سپرلے وړاندې کووم: د سگِ مدينه عُفِيَ عَنه خوا له به يو اسلامي ورور محمد وسيم عطّاري راتللو. د هغه عاجزه ګَس لاس کينسر شو او ډاکټرانو ترينه لاس کټ کړو. د هغوئي د علاقے يو اسلامي ورور سگِ مدينه ته اووئيل چې وسيم ورور د سخت درد په وجه په ډير تکليف کښې دے. زه د تپوس د پاره هسپتال ته ورغلم او تسلّي مې ورکړه او څه داسې مې اووئيل چې: ګَس لاس دې کټ شو د دې غم مه کوه، اَلْحَمْدُلِلّٰه! ښے لاس خو دې بچ دے او د ټولو نه لوئ سعادت دا چې اَلْحَمْدُلِلّٰه! "ايمان" دې هم سلامت دے. اَلْحَمْدُلِلّٰه! ما هغه ډير صبر والا محسوس کړو، صرف مُسکے مُسکے کيدلو تر دې پورې چې د کټ نه راپاخيدو او زما سره د بهره پورې راغلو. په قلاره قلاره ئې د لاس تکليف خو ختم شو خو بَل امتحان ئې شروع شو او هغه دا چې په سينه کښې ئې اوبه اوشوې، په سخت تکليف کښې ئې ورځې تيريدلې. يوه ورځ ئې تکليف ډير زيات شو، ذِكْرُالله ئې شروع کړو، د کمرے نه ئې د الله الله آوازونه راتلل، طبيعت ئې ډير خراب شوے وو، ډاکټر له د بوتللو کوشش اوکړے شو خو انکار ئې اوکړو، نيا ابئ (د پلار د طرفه نيا ابئ) (د هغه سر) په محبت او شفقت سره په غيږه کښې کينبودو، په خُله ئې کلمه طَيِّبَة لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰه (صَلَّى اللّٰہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) جاري شوه او تقريباً 22 کلن محمد وسيم عطّاري وفات شو. اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّاۤ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ کله ئې چې مَرحوم د غُسل د پاره وړَلو نو ناڅاپه ئې د مخ نه څادر لرې شو، د مرحوم مخ د

ګلاب د ګل په شان ښکلے وو، د غسل نه پس ئې مخ نور هم ښکلے شو. د خخولو نه پس عاشقانِ رسول نعتونه وئیل، د قبر نه ئې خوشبوئي راتلله خو چا چې محسوس کړه هغه محسوس کړه. د کور یو کَس د وفات کیدو نه پس په خوب کښې مرحوم محمد وسیم عطّاري په ګلونو سینګار کړے شوې یوه کمره کښې اولیدو، پوښتنه ئې ترینه اوکړه: چرته اوسیږې؟ په لاس ئې د یوې کمرے طرف ته اشاره اوکړه او اوئې وئیل: دا زما کور دے، دلته زه ډیر خوشحاله یم. بیا په یو سینګار کړے شوي ګټ کښې څملاستلو. د هغه بابا جان [یعني نِیکه] په خوب کښې خپل ځان د وسیم عطّاري د قبر خوا کښې اولیدو، ناڅاپه قبر برسیره شو او مرحوم عمامه (پټکے) په سر کړے وو او سپین کفن ئې اغوستے وو او بهر راغلو، څه خبرې ئې اوکړې او بیا قبر ته ننوتو او قبر بیرته بند شو. **د اللّٰه رَبُّ العزّت دې په هغوئي رَحمت وي او د هغوئي په وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه اوشي.**

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

تو نے اسلام دیا تو نے جماعت میں لیا
تو کریم اب کوئی پھرتا ہے عطیہ تیرا

شَرحِ کلامِ رضا: یا رسولَ اللّٰه! تاسو مونږ له د اسلام په صورت کښې انعام راکړو، په خپل اُمَّت کښې مو شامِل کړو، تاسو داسې کرم کوونکي ئې، چې تاسو به د دینِ اسلام انعام ډالئ راکولو نه پس بیا کله هم زمونږ نه دا بیرته نه اخلئ؟

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د 40 حديثونو رَسَوَلو فضيلت

د آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک: څوک چې زما اُمَّت ته د رَسَوَلو د پاره د دين په باره کښې 40 حديثونه ياد کړي نو هغه به الله پاک د قيامت په ورځ د عالِـمِ دين په حيثيت راپاڅوي او د قيامت په ورځ به زه د هغه شفيع (يعني شفاعت کوونکے) او ګواه يم. (شُعَبُ الايمان، ج: 2، ص: 270، حديث: 1726) د دې فرمانِ عالي شان نه مُراد څلويښت حديثونه خلقو ته رَسَوَل دي اګر که هغه ياد نه وي.
(اشعةُ اللّمعات، ج:1، ص: 186)

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ! په حديثِ پاک کښې د بيان کړے شوي فضيلت حاصلولو په نيت سره زمونږه د خوږ خوږ آقا، مُحَمَّدُ رَّسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د آخِري نبي کيدو په باره کښې 40 حديثونه وړاندې کووم:

## د ختمِ نُبُوَّت په باره کښې 40 حديثونه

### د نوراني محَل آخري خښته

﴾1﴿ زما او زما نه د مخکښينو انبيائے کرامو مثال د هغه کَس په شان دے چا چې يو ډير ښکلے او ښائسته کور جوړ کړو، خو په هغې کښې ئې په يو ګوټ کښې د يوې خښتې ځائے پريښودو، خلق د هغې نه ګير چاپيره تاويدل او په حيرانتيا ئې دا وئيل چې دا خښته ئې ولې نه ده ايښودې؟ بيا هغوئ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: زه هغه (آخِري) خښته يم او په نبيانو کښې آخري نبي يم.
(بخاري، ج: 2، ص: 484، حديث: 3535)

﴿2﴾ په بَل روايت كښې دا الفاظ هم دي: ”د هغه خښتې د ځائے (ډَکَولو والا) زه يم، زه چې راغلم نو د نبيانو (سلسله) مې ختمه (يعني مکمله) کړله.“
(مسلم، ص: 966، حديث: 5963)

ہیں وہ وہ قصرِ نُبُوَّت کی اینٹ
آخِری قول شاہ دنا خاتم الانبیا

شَرحِ حديث: مفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک په شَرح کښې ليکي: سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے مثال دے ”نُبُوَّت“ ګويا نوراني محَل دے، انبيائے کرام (عَلَيْهِمُ السَّلَام) ګويا د دې نوراني خښتې دي، حضور (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) ګويا د دې محَل آخِري نُوراني خښته دے د کومې په ذريعه چې دغه عمارت مکمل شو. دې نه معلومه شوه چې حضور (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) **آخِري نبي** دے، د هغوئي په زمانه کښې يا د هغوئي نه پس بَل [نوے] نبي نشته. څنګه چې په دې آخِري خښته هغه محل سر ته اورسي او د دې نه پس په دې کښې د بلې يوې خښتې ځائے هُم پاتې نه شي داسې په ما باندې د نُبُوَّت محل سر ته اورسيدو اوس د يو نبي ځائے هم پاتې نه دے. ياد ساتئ چې عيسٰى عَلَيْهِ السَّلَام به قيامت ته نزدې په زمکه باندې تشريف راوړي خو هغوئي مخکښينے نبي دے وروستو [نوے راتلونکے] نبي نه دے (او) دا خښته مخکښې لګيدلې ده، او هغوئي به اوس د نُبُوَّت د شان سره (يعني د خپل نُبُوَّت د حکمونو جاري کولو د پاره) نه راځي بلکه د حضور (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د اُمَّتي په حيثيت به تشريف راوړي. ياد ساتئ چې آخِري ځوئ هغه دے د کوم نه پس چې بل ځوئ هډو پيدا شوے نه وي دا ضروري نه ده چې مخکښيني ټول ځامن ئې مړه شوي وي. د حضور (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د ”**آخِري نبي**“ کيدو معنٰى دا ده چې د هغوئي په زمانه کښې د هغوئي د زمانے نه

پس به بَل نبي نه پیدا کیږي، که چرې مخکښینے یو نبي (په ظاهري طور باندې هم) ژوندے وي نو (په دې کښې) هیڅ باک نشته. څلور نبیان تر اوسه پورې (په ظاهري طور باندې هم) ژوندي دي: دوه په زمکه حضرت خِضر او حضرت الیاس عَلَیْهِمَا السَّلَام او دوه په آسمان باندې حضرت ادریس او حضرت عیسٰی عَلَیْهِمَا السَّلَام، د هغوئي ژوند د حضورِ انور (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د خَاتَمُ النَّبِیّٖن کیدو خلاف نه دے. حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو نه وروستو مخلوق دے او آخري نبي دے.

(مرأة، ج: 8، ص: 7)

## د خَاتَمُ النَّبِیّٖن معنٰی

شارِحِ بخاري مفتي شریفُ الحق اَمجدي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د خَاتَمُ النَّبِیّٖن معنٰی بخپله حُضُورِ اَقدس صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم "آخِري نبي" ښودلې ده او [هُم] دا معنٰی صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضْوَان ښودلې ده او په دې باندې د اُمَّت قطعي یقیني اِجماع (یعني اِتِفاق) دے، ځکه که یو کَس دا اووائي چې د خَاتَمُ النَّبِیّٖن معنٰی آخِري نبي د عوامو خیال دے او په دې کښې څه فضیلت نشته او دا په تعریف کښې د ذِکر کولو قابل نه دي نو هغه بے شکه کافِر دے.

(نزهة القاری، ج: 4، ص: 510 مختصراً)

## شپږ فضیلتونه

﴿3﴾ ماته په شپږو وجهو سره په انبیائے کرامو (عَلَيْهِمُ السَّلَام) باندې فضیلت راکړے شوے دے (۱) ماته جامع کلمات عطا کړے شوي دي (۲) زما مدد په رُعب سره شوے دے [یعني ما ته رُعب راکړے شوے دے] (۳) زما د پاره غنیمتونه حلال کړے شوي دي (٤) ټوله زمکه زما د پاره د طهارت او لمونځ ځائے جوړ

کړے شوې ده (٥) زه د ټولو مخلوقاتو په لور (نبي جوړ کړے شوے) رالیږلے شوے یم او (٦) په ما باندې د نبیانو (سلسله) ختمه کړے شوې ده.

(مسلم، ص: 210، حدیث: 1167)

**شَرحِ حدیث:** د پینځه شپږو صفاتو ذِکر کول د حَد بندئ د پاره نه دي حضور (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) ته په بے شمیره صفاتو کښې بزرګي ورکړے شوې ده. (ماته جامِع کلمات راکړے شوي دي) په وضاحت کښې مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لیکي: د قرآنِ مجید الفاظ هم جامِع دي او د حُضُور (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) خپل الفاظ هم ډیر جامِع دي چې الفاظ لږ [او] معني او مطلب ئې ډیر زیات. اوګورئ حُضُور (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) فرمائي: "د اعمالو اعتبار په نیتونو دے، د دین حقیقت خیر خواهي [د خلقو خیر ښیګړه غوښتل] دي، کامِل مؤمِن هغه دے چې بے کاره او بے فائده خبرې پرېږدي." [دا په ظاهره] وړې وړې جملے دي خو ټول شریعت او طریقت په دې کښې راټول دے. (زما مدد په رُعب سره شوے دے) په وضاحت کښې مفتي صاحِب فرمائي: چې کوم دښمنان زما سره د جګړې د پاره راځي نو هغوئ لا د یوې میاشتې په فاصِله باندې زما نه لرې وي چې د هغوئ په زړونو کښې زما ویره پریوځي اګرچه هغوئ جنګ اوکړي خو هغوئ په رُعب کښې وي. (زه د ټول مخلوق طرف ته (نبي جوړ کړے شوے) رالیږلے شوے یم) په وضاحت کښې مفتي صاحب لیکي چې: ټول مخلوق که هغه ساه لرونکي وي او که بے ساه وي، که عاقِل (یعني عقل والا) وي او که غیرِ عاقِل (یعني بے عقل) وي په ټولو باندې د حضور (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) نُبُوَّت، د حضور (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) حکمونه (حسبِ حالت) نافِذ دي. (او په ما باندې د نبیانو (سلسله) ختمه کړے شوې ده) د دې په شَرح کښې مفتي صاحب لیکلي دي: زه آخِري نبي یم په ما چې د نُبُوَّت

دَور ختم شو زما په زمانه کښې يا زما نه پس بَل هيڅ څوک [نوے] نبي نشته. (مراٰة،ج:8، ص:10،11 نه مختصراً) کوم څلور نبيان: حضرت خِضر، حضرت الياس، حضرت اِدريس او حضرت عيسٰی عَلَيْهِمُ السَّلَام لا تر اوسه پورې ظاهري طور وفات شوي نه دي، بے شکه هغوئي نبيان دي، خو د تېولو نه د آخِري نبي، محمدِ عَرَبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مَبعوث کيدو نه پس به [دغه پخواني نبيان] د خپل راوړې شوي شريعت تبليغ نه کوي.

## زه عاقِب يم

﴿4﴾ زما پينځه نومونه دي، زه محمد يم، زه احمد يم، زه ماحي (يعني ختموونکے) يم چې الله پاک به زما په ذريعه کُفر ختم کړي، زه حاشِر يم چې خلق به زما په قدمونو باندې (يعني په ما پسې وروستو د قيامت په ورځ[3]) يو ځائے کيږي او زه عاقِب يم. (بخاري ج:2، ص: 484، حديث: 3532) تابعي بزرګ، امام زُهري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: عاقِب هُغه دے د چا نه پس چې بل نبي نه وي.

(مسلم، ص: 985، حديث: 6107)

شہِ انبیا ہے، خدا کا ہے پیارا — وہ نبیوں میں سن لو! نبی آخِری ہے
محمد ہے احمد، ہے سلطانِ بَطحا — وہ نبیوں میں سن لو! نبی آخِری ہے

## د تېولو نبيانو سردار

﴿5﴾ زه د رسولانو قائِد يم او دا خبره د فخر په طور باندې نه کووم، زه د تېولو نبيانو خاتَم (يعني آخِري نبي) يم او دا خبره د فخر په طور باندې نه کووم او زه د

---

3 نزهة القاری ج:4، ص: 508

تېرو نه وړومبے شفاعت کوونکے او د تېرو نه وړومبے شفاعت قبول کړے شوے يم او دا خبره د فخر په طور باندې نه کووم. (دارمي، ج: 1، ص: 40، حديث: 49)

شَرحِ حديث: د حديثِ پاک د دې حصے (زه د رسولانو قائِد يم) په وضاحت کښې په "مِرآت" کښې دي: حُضُور (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) به جنت ته د تېرو نبيانو نه وړومبے ځي او ټول نبيان به په حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پسې شاته شاته [روان] وي په دې لحاظ سره حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قائِدُ المُرسَلين (يعني د رسولانو قائِد) دے. (مرآت، ج: 8، ص: 28)

## خَاتَمُ النَّبِيّين

﴾6﴿ بے شکه زه د الله پاک په نزد هٰغه وخت خَاتَمُ النَّبِيّين اوليکلے شوم کله چې (حضرتِ) آدم (عَلَيْهِ السَّلَام) په خپله خاوره کښې اښکلے شوے وو [يعني چې کله د حضرتِ آدم عَلَيْهِ السَّلَام د بدن خَټه جوړيدله].

(الاحسان بترتيب صحيح ابن حبان، ج: 8، ص: 106، حديث: 6370)

﴾7﴿ بے شکه زه آخِرُ الانبيا (يعني په ټولو نبيانو کښې آخِري نبي) يم او زما جُمات آخِرُ الـمَساجِد دے.

(مسلم، ص: 553، حديث: 3376)

## د آخِرُ المَساجِد معنٰى

﴾8﴿ په بَل روايت کښې دا الفاظ دي: " زه په ټولو نبيانو کښې آخِري نبي يم او زما جُمات د انبياء د جُماتونو آخِري دے." (الفردوس، ج: 1، ص: 45، حديث: 112) مطلب دا دے چې د حضرت محمّدِ عَرَبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه پس به نه بَل نبي پيدا کيږي او نه به د بَل يو نبي جُمات جوړيږي.

## جنّت ته داخل شئ

﴿9﴾ اے خلقو! بے شکه زما نه پس بَل يو نبي نشته او ستاسو نه پس بَل يو اُمّت نشته. خبردار! تاسو د خپل رَبّ عِبادت کوئ، پينځه [وخته] لـمونځونه کوئ، د رمضان د مياشتې روژې نيسئ، د خپلو مالونو نه د زړه په خوشحالئ سره زکوٰة ورکوئ، او د خپلو حاکِمانو (جائزه) فرمانبرداري کوئ نو تاسو د خپل رَبّ جنَّت ته داخل شئ.

(معجم کبير، ج: 8، ص: 115، حديث: 7535)

## زما نه پس هيڅ کله هم بَل نبي نشته

﴿10﴾ په بني اسرائيلو کښې به انبياءِ کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام حکومت کولو، چې کله به يو نبي وفات شو نو بَل نبي به د هغوئي خليفه شولو، (خو ياد ساتئ!) **زما نه پس هيڅ کله هم بَل نبي نشته،** آؤ! نزدې ده چې خُلَفاء به وي او ډير به وي.

(بُخاري، ج: 2، ص: 461، حديث: 3455)

شَرح حديث: يعني نه خو زما په زمانه کښې بَل يو نبي شته کوم چې زما په موجودګئ کښې زما خليفه جوړ شي لکه څنګه چې هارون عَلَيْهِ السَّلَام د حضرت موسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام په موجودګئ کښې د يو څو ورځو د پاره عارضي خليفه جوړ شوے وو کله چې موسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام د تَورات اخستو د پاره [کوهِ] طُور ته تشريف وړے وو. او نه زما نه پس بَل يو نبي شته کوم چې زما مُستَقِل خليفه شي، لِـهٰذا زما خُلَفاء زما د دين سَلاطين (يعني بادشاهان) دي او باطِني خُلَفا اولياء او عُلَماء حضرات دي.

(مراٰة، ج: 5، ص: 346)

﴿11﴾ د نُبُوَّت نه هيڅ باقي نه دي پاتې، صِرف بشارتونه [زيري] پاتې دي، صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! بشارتونه څه دي؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: ښه ښه خوبونه.''

(بخاري، ج: 4، ص: 404، حديث: 699)

﴿12﴾ زما نه پس به د نُبُوَّت نه هيڅ باقي پاتې نه شي خو بشارتونه (يعني) ښه خوبونه چې بنده ئې پخپله اووينې يا د هغه د پاره په بَل کَس اوليدلے شي.

(مسند امام احمد بن حنبل ج: 9، ص: 450، حديث: 25031)

﴿13﴾ بے شکه رِسالت او نُبُوَّت ختم شو، نو زما نه پس نه څوک رسول شته او نه نبي.

(ترمذي، ج: 4، ص: 121، حديث: 2279)

﴿14﴾ زه محمد يم، زه احمد يم، زه د رحمت نبي يم، زه د توبې نبي يم، زه د ټولو نه آخِري نبي يم، زه حاشِر يم[4]، زه د جهادونو نبي يم.

(شمائل ترمذي، ص: 215، حديث: 361، فتاوٰى رضويه، ج: 15، ص: 657)

اُن کے ہر نام و نسبت پہ نامی دُرود
اُن کے ہر وقت و حالت پہ لاکھوں سلام

(حدائقِ بخشش)

﴿15﴾ زه احمد يم، زه محمد يم او مُقفِّى يم. (معجم اوسط، ج:1، ص:622، حديث:2280نه مختصراً) د مُقفِّى معنٰى ده: اٰخِرُ الاَنۡبِيَاء يعني په ټولو نبيانو کښې آخِري نبي.

(الاستذکار لا بن عبد البر، ج:2، ص: 326)

﴿16﴾ مونږه په زمانه کښې د ټولو نه آخِري او په قيامت کښې د ټولو نه وړومبي يُو.

(بخاري، ج: 1، ص: 303، حديث: 876)

[4] د ''حاشِر'' تفصيل حديث نمبر 4 کښې دے۔

## د ټولو نه وړومبے جنّت ته تلونکے اُمَّت

شارِحِ مسلم، حضرت امام نَوَوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک په شَرح کښې ليکي: عُلَمائے کرامو فرمائيلي دي: د دې حديثِ پاک مطلب دا دے چې مونږه دنيا ته د تشريف راوړلو په اعتبار سره په آخِره کښې يُو [خو] د فضيلت او جنَّت ته د تللو په لحاظ سره وړومبي يُو ځکه به دا اُمَّت د ټخوانو ټولو اُمّتونو نه مخکښې جنَّت ته ځي.

(شرح مسلم للنووي، ج: 6، ص: 142)

﴾17﴿ مونږه په دنيا کښې د ټولو نه وروستو او د قيامت په ورځ به د ټولو نه وړومبي يو، د چا فيصله چې به د قيامت په ورځ د ټولو نه وړومبے کيږي.

(مسلم،ص: 332، حديث: 1982)

## د صفاتو نه ډکه مختصره خبره

﴾18﴿ اللّٰه پاک زما د پاره کمال اِختِصار اوفرمائيلو، نو مونږه د ټولو نه آخِري او د قيامت په ورځ مونږه د ټولو نه وړومبي يُو.

(دارمي، ج:1، ص: 42، حديث: 54 ملخصاً)

د حديثِ پاک د دې حصے (کمال اِختِصار ئې اوفرمائيلو) معنٰى دا ده: ماته ئې د اِختِصارِ کلام (يعني د صفاتو نه ډکو مختصرو خبرو کولو کمال) راکړو چې لږ الفاظ وي او معني ئې ډيرې وي.

(فتاوٰى رضويه، ج: 30، ص: 210)

﴾19﴿ بے شکه زه راوليږلے شوم د رحمت درياب برسيره کوونکے او نُبُوَّت او رِسالت ختمولو والا.

(شعب الايمان، ج: 4، ص: 308، حديث: 5202، فتاوٰى رضويه، ج: 15، ص: 661)

﴾20﴿ زه د ټولو نبيانو نه مخکښې پيدا شوم او د ټولو نه وروستو راوليږلے شوم.

(مسند الشاميين، ج:4، ص: 34، حديث: 2662)

﴿21﴾ زه آخِري نبي يم او تاسو آخِري اُمَّت ئې.

(ابن ماجه، ج: 4، ص: 404، حديث: 4077)

## د ټولو نبيانو نه د افضل کيدلو سبب (واقعه)

حضرت سَهل بِن صالِح هَمداني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د حضرت امام باقر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه پوښتنه اوکړه: نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خو د ټولو انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام نه وروستو راوليږلے شو بيا حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته په ټولو انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام باندې فضيلت او برتري څنګه حاصله شوه؟ هغوئ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ارشاد اوفرمائيلو: الله پاک چې کله د ميثاق (يعني د وعدے په ورځ) د انسانانو د شاه ګانو نه د هغوئ اولادونه را اُووِيستل او هغوئ ئې پخپله په هغوئ باندې ګواهان جوړ کړل او اوئې فرمائيل: آيا زه ستاسو رَبّ نه يم، نو د ټولو نه مخکښې رسولِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عرض اوکړو: بَلٰى يعني "آؤ ولې نه" په دې وجه نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته په ټولو انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلَام باندې فضيلت او برتري حاصله شوه، حالانکه هغوئ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو نه په آخِره کښې دنيا ته راوليږلے شولو.

(خصائصِ کبرىٰ، ج: 1، ص: 7)

قرنوں بدلی رسولوں کی ہوتی رہی
چاند بدلی کا نکلا ہمارا نبی

کیا خبر کتنے تارے کھلے چھپ گئے
پر نہ ڈوبے نہ ڈوبا ہمارا نبی

(حدائقِ بخشش)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

﴿22﴾ په ټولو انبياؤ کښې وړومبے نبي (حضرت) آدم (عَلَيْهِ السَّلَام) دے او د ټولو نه آخِري نبي (حضرت) محمد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) دے.

(الاوائل للطبراني، ص: 39، حديث: 13)

﴿23﴾ لَوْ كَانَ نَبِيٌّ بَعْدِي لَكَانَ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّاب. يعني زما نه پس كه چرې بَل نبي وے نو (هغه به) عُمر وے.

(ترمذي، ج: 5، ص: 385، حديث: 3706)

شَرحِ حديث: امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک په وضاحت كښې فرمائي: يعني د هغوئي (رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) فِطرت دومره كامِل وو چې كه چرې د نُبُوَّت دروازه بنده نه وے نو صِرف د الله په فضل هغوئي نبي كيدے شو ځكه چې د خپل ذات په اعتبار سره هيڅ څوک د نُبُوَّت مستحِق نه دے.

(فتاوٰی رضويه، ج: 29، ص: 373)

﴿24﴾ ابوبكر د اَنبياء (او مُرسلين) نه سِوا د ټولو خلقو نه افضل دے.

(الكامل لا بن عدي، ج: 6، ص: 484)

## 30 دروغژنان نبيان به وي

﴿25﴾ ډير زر به زما په اُمَّت كښې 30 كَذَّاب (يعني ډير غټ دروغژنان) وي، په هغوئي كښې به هر يو گمان (يعني خيال) كوي چې هغه نبي دے حالانكه زه خَاتَمُ النَّبِيّين (يعني آخِري نبي) يم او زما نه پس بَل هيڅ نبي نشته.

(ابوداؤد، ج: 4، ص: 132، حديث: 4252)

## شَرحِ حديث

حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک په شَرح كښې ليكي: دا 30 دروغژنان نبيان هغه دي كوم چې خلقو نبيان اومنل او د هغوئي فساد خور شو، بل قسم مُدَّعِيِ نُبُوَّت (يعني د نبي كيدو دعوئ كوونكي هغه دي) كوم چې چا اونه منل هغوئي بكواس اوكړو او مړه شول هغه خو ډير زيات دي.

(مفتي صاحب نور فرمائي:) معلومه شوه چې د خَاتَمُ النَّبِيّين معنٰی ده آخِري نبي چې د هغوئي په زمانه کښې او د هغوئي نه پس بَل څوک نبي جوړ نه شي. په دې معنٰی باندې د اُمَّت اِجماع (يعني اتفاق) دے څوک چې اووائي چې د دې معنٰی "آخِري نبي" نه بلکه اصلي نبي ده (نو) هغه کافِر دے.

(مراٰة، ج:7، ص: 219، 220 نه خلاصه)

﴿26﴾ زما په اُمَّت کښې به کَذَّاب او دَجَّال (ډېر دروغژن او دهوکه باز) وي (او) په هغوئي کښې به څلور زنانه هم وي او زه آخِري نبي يم زما نه پس بل هيڅ نبي نشته.

(معجم کبير، ج: 3، ص: 169، حديث: 3026)

## د مولٰی علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عظمت و شان

﴿27﴾ حُضُور اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د غزوۂ تَبوک طرف ته د تشريف وړلو په وخت حضرت علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په مدينه منوره کښې پريښودو نو هغوئي عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ما په زنانؤ او ماشومانو کښې پريږدئ، اوئي فرمائيل: آيا ته په دې راضي نه ئې چې ته زما په نِيابَت (يعني د نائِب کيدو په حيثيت) کښې داسې پاتې شې لکه څنګه چې موسٰی (عَلَيْهِ السَّلَام) کله د خپل رَبّ سره د کلام د پاره حاضِريدو نو هارون (عَلَيْهِ السَّلَام) ئې په خپل نيابت (يعني د نائِب کيدو په حيثيت) کښې پريښودے وو، خو دا فرق دے چې هارون (عَلَيْهِ السَّلَام) نبي وو (او) زه چې د کله نه نبي شوے يم نو [يعني چې کله نه ما د نُبُوَّت اعلان کړے دے د هغې نه پس] د بَل چا د پاره نُبُوَّت نشته.

(مسلم، ص: 1006، حديث: 6218، ترمذي، ج: 5، ص: 407، حديث: 3745)

## شَرحِ حديث

شارِحِ بخاري حضرت مفتي شريفُ الحق اَمجدي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: حضرت موسىٰ (عَلَيْهِ السَّلَام) چې کله کوهِ طور ته د تورات اخستو د پاره تللو نو حضرت هارون (عَلَيْهِ السَّلَام) ئې عارضي طور د خپلې واپسۍ پورې خپل جانشين جوړ کړے وو کوم چې د هغوئي د واپس کيدو نه پس [جانشين کيدل] ختم شو، دې تمثيل (يعني مثال) ظاهره کړه چې حضورِ اَقدس صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عارضي طور د تَبوک نه واپسۍ پورې خپل نائِب جوړ کړے وو (او) دا نِيابَت هم مَحدود وو صِرف د انتظامي معاملاتو تر حده پورې وو.

(نزهة القارى، ج: 4، ص: 602)

﴿28﴾ علي زما نه داسې دے څنګه چې د موسىٰ نه هارون (چې ورور مې هم دے او نائِب هم) خو "لَا نَبِيَّ بَعدِیْ" زما نه پس بل هيڅ نبي نشته.

(تاريخ بغداد، ج: 7، ص: 463)

﴿29﴾ زه محمد، نبي اُمّي (يعني په دنيا کښې د چا نه د لوستلو/زده کولو نه بغير لوستلو والا نبي) يم (داسې ئې درې ځله اوفرمائيل) او "لَا نَبِيَّ بَعدِیْ" زما نه پس بل هيڅ نبي نشته.

(مسند امام احمد، ج: 2، ص: 666، حديث: 7000)

﴿30﴾ ما چې څه هم اوغوښتل الله پاک ماته عطا کړل خو ماته دا اوفرمائيلے شول چې ستا نه پس بل نبي نشته.

(السنة لا بن ابى عاصم، ص: 303، حديث: 1348)

اے ختمِ رُسُل، مکی مدنی
کونین میں تم سا کوئی نہیں

## تا رښتیا اووئیل

﴿31﴾ فرښتے به په قبر کښې د مړي نه پوښتنه کوي: "ستا رَبّ څوک دے؟ ستا دين څه دے؟ او ستا نبي څوک دے؟" هغه به وائي: زما رَبّ الله دے چې د هغه بل هيڅ شريک نشته او زما دين اسلام دے او زما نبي (حضرت) محمد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) دے او هغوئي د ټولو نه آخِري نبي دے. فرښتے به وائي: تا رښتيا اووئيل.

(ذکر الموت مع موسوعة للامام ابن ابی الدنيا ج: 5، ص: 474، حديث 254، شرح الصدور(اردو) ص: 130 مختصراً)

## د يو خوب تعبير

﴿32﴾ د حضرت اِبنِ زِمْل رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د خوب تعبير بيانولو کښې (رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) اوفرمائيل: پاتې شوه هغه اوښه کومه چې تا په خوب کښې اوليدله او دا چې زه په هغې سورلئ کووم نو د دې نه مُراد قيامت دے نه به زما نه پس څوک نبي وي او نه به زما د اُمَّت نه پس بل يو اُمَّت وي.

(دلائل النبوة للبيهقي، ج: 7، ص: 38 مختصراً)

## د هغوئي نه مخکښې به نُور مَنډې وهي

﴿33﴾ بے شکه الله پاک به د قيامت په ورځ د نورو نه مخکښې (حضرت) نُوح (عَلَيْهِ السَّلَام) او د هغوئي قوم راوبلي او ورته به اوفرمائي: تاسو نُوح له څه جواب ورکړے وو؟ هغوئي به وائي: نُوح (عَلَيْهِ السَّلَام) نه مونږه ستا په لور رابللي وو، نه ئي راته ستا څه حکم رارسولے وو، نه ئي راته څه نصيحت کړے وو، نه ئي راته د آؤ يا نه څه حکم اورولے وو، نُوح (عَلَيْهِ السَّلَام) به عرض اوکړي: يا الله! ما دوئي ته داسې دعوت ورکړے وو، چې د هغې خبر د يو نه پس بل او په ټولو مخکښينو او وروستو کښې خور شو، تر دې پورې چې (هغه خبر) د ټولو نه آخِري نبي

(حضرت) احمد (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) ته اورسيدلو، هغوئي هغه اوليکلو او اوئې لوستلو (يعني په قرآنِ کريم کښې بيان شو کوم چې اوليکلے او اولوستلے شو) او په هغې باندې ئې ايمان راوړو او د هغې ئې تصديق اوکړو. اللّٰه پاک به اوفرمائي: اَحمد (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) او د اَحمد اُمّت راوبلئ. نو رسولُ اللّٰه (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) او د هغوئي اُمَّت به په داسې حال کښې د اللّٰه پاک په بارګاه کښې حاضرېږي چې د هغوئي نه مخکښې به نُور منډې وهي، هغوئي به د نُوح (عَلَيْهِ السَّلَام) ګواهي ورکوي (يعني تصديق به ئې کوي).

(المستدرک، ج: 3، ص: 415، حديث: 4066، فتاوٰی رضويه، ج: 15، ص: 690)

## د قيامت په ورځ به ټول مخلوق آخِري نبي وائي

﴿34﴾ اَوَّلين او آخِرين به زما په خِدمت کښې حاضر شي او عرض به اوکړي: "حُضُور تاسو د اللّٰه پاک رسول او خَاتَمُ الْاَنْبِيَاء يعني آخِري نبي ئې، زمونږه شفاعت اوکړئ."

(بخاري، ج: 3، ص: 260، حديث: 4712 ملخصاً)

يَا شَفِيْعَ الْوَرٰى سَلَامٌ عَلَيْک | يَا نَبِيَّ الْهُدٰى سَلَامٌ عَلَيْک
خَاتَمَ الْاَنْبِيَاء سَلَامٌ عَلَيْک | سَيِّدَ الْاَصْفِيَاء سَلَامٌ عَلَيْک

## که چرې محمد نه وے نو ما به ته نه وے پيدا کړے

﴿35﴾ د (حضرت) آدم (عَلَيْهِ السَّلَام) نه چې کله اِجتِهادي خطا اوشوله، نو هغوئي د عرش په لور خپل سَر مُبارک اوچت کړلو او د اللّٰه پاک په بارګاه کښې ئې عرض اوکړو: "يا اللّٰه پاکه! زه تاته د محمد (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) وسيله وړاندې کووم او سوال کووم چې ما اوبخښه." اللّٰه پاک ارشاد اوفرمائيلو: اے آدمه! تا محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څنګه اوپيژندلو حالانکه ما خو لا هغه پيدا کړے هم نه دے؟

حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام عرض اوکړو: یا الله پاکه! کله چې تا زه په خپل قدرت سره جوړ کړم نو ما چې کله سر اوچت کړو نو په عرش باندې مې لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ الله لیکلي اولیدل نو زه پوهه شوم چې تا به د هغه چا نوم د خپل پاک نوم سره یو ځائے کړے وي کوم چې تاته د ټول جهان نه زیات ګران دے او ستا په نزد د هغه ډیر عزّت دے. الله پاک ارشاد اوفرمائیلو: اے آدمه! تا رښتیا اووئیل، بے شکه هغه ما ته د ټول جهان نه زیات ګران دے، چې تا ماته د هغه په وسیله سوال اوکړو نو ما ستا خَطا معاف کړله وَلَوْلَا مُحَمَّدٌ مَا خَلَقْتُکَ یعني که چرې محمد نه وے نو ما به ته نه وے پیدا کړے.[5] د طبراني په روایت کښې دا اضافه ده: او هغوئي ستا په اولاد کښې د ټولو نه آخِري نبي دے او د هغوئي اُمَّت ستا په اولاد کښې د ټولو نه آخِري اُمَّت دے.

(معجم صغیر جزء ثاني، ص: 82، فتاوٰی رضویه، ج: 15، ص: 633)

وہ جو نہ تھے تو کچھ نہ تھا، وہ جو نہ ہوں تو کچھ نہ ہو
جان ہیں وہ جہان کی، جان ہے تو جہان ہے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب     صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

﴿36﴾ چې کله حضرت آدَم (عَلَيْهِ السَّلَام) د جَنَّت نه په هِند [هندوستان] کښې راکوز شو نو ویره ئې محسوس کړه، جبریل راکوز شو او آذان ئې اوکړو، چې کله [پکښې د محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم] پاک نوم راغلو (نو) حضرت آدم (عَلَيْهِ السَّلَام) پوښتنه

5: المستدرک ج: 3، ص: 517، حدیث: 4286

اوکړه: محمد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) څوک دے؟ اوئې وئيل: ستاسو په اولاد کښې د ټولو نه آخِري نبي دے.

(ابن عساکر، ج: 7، ص: 437، مختصراً فتاوٰی رضويه، ج: 15، ص: 640)

## په تورات شريف کښې ذِکرِ خير

﴿37﴾ په (حضرت) موسٰی (کليمُ الله عَلَيْهِ السَّلَام) باندې چې کله تورات شريف نازِل شو نو هغوئي چې هغه اولوستلو نو په هغې کښې ئې د دې اُمَّت ذِکر اوموندلو نو د الله پاک په بارګاه کښې ئې عرض اوکړو: اے زما رَبَّه! په دې کښې د يو اُمَّت (ذِکر) دے چې کوم په زمانه کښې د ټولو نه آخِري او په مرتبه کښې د ټولو نه وړومبے دے، نو دا زما اُمَّت کړې. الله پاک ارشاد اوفرمائيلو: دا د احمد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) اُمَّت دے.

(دلائل النبوة لا بى نعيم ص: 33، حديث: 31، فتاوٰی رضويه، ج: 15، ص: 633)

کتابِ حضرتِ موسٰی میں وَصف ہیں اُن کے کتابِ عیسٰی میں اُن کے فسانے آئے ہیں
اُنہیں کی نَعت کے نغمے زبور سے سُن لو زبانِ قرآں پہ اُن کے ترانے آئے ہیں

(سامانِ بخشِش ص ۱۲۵)

## د ټولو نه وړومبے او د ټولو نه آخِري

﴿38﴾ الله پاک چې کله (حضرت) آدم (صَفِيُّ الله عَلَيْهِ السَّلَام) پيدا کړو او هغوئي ته د هغوئي ځامن اوښودلے شو نو هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام هغوئي په يو بَل باندې د فضيلت او مرتبے په لحاظ سره اوليدل او د هغه ټولو په آخِره کښې ئې اوچت او

روښانه نُور اولیدلو نو د اللّٰه پاک په بارګاه کښې ئې عرض اوکړو: یا اللّٰه پاکه! دا څوک دے؟ اوئې فرمائیل: دا ستا ځوئ "اَحمد" (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) دے، دا اوَّل (یعني وړومبے) دے او هم دا آخِر دے او دا د ټولو وړومبے شفیع (یعني شفاعت کوونکے) او هم دا د ټولو نه وړومبے شفاعت قبول کړے شوے دے.

(دلائل النبوة للبیهقي ج: 5، ص: 483، کنز العمال، ج: 11، ص: 197، حدیث: 32053، فتاوٰی رضویه، ج: 15، ص: 634)

ذات ہوئی اِنتخاب وصف ہوئے لاجواب
نام ہوا مصطفٰے تم پہ کروڑوں دُرُود

## وړومبے او آخِري نبي

﴿39﴾ حضرت ابو هُریره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: (د معراج په شپه) رسولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په آسمانونو کښې د انبیائے کرامو علیهِمُ السَّلام سره ملاقات اوکړو نو ټولو د اللّٰه پاک حمد (یعني تعریف) بیان کړو او په آخِره کښې د ټولو نه آخِري نبي، محمدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: تاسو ټولو د اللّٰه پاک تعریف بیان کړو، اوس ئې زه بیانووم: "ټول تعریفونه اللّٰه پاک لره دي چا چې زه د ټول جهان د پاره رحمت راولیږلم او د ټولو د پاره ئې زیرے ورکوونکے او ویره اورووونکے جوړ کړے را اولیږلم او په ما باندې ئې قرآنِ کریم نازل کړو په کوم کښې چې د هر څیز روښانه بیان دے او زما اُمَّت ئې بهتر اُمَّت جوړ کړو په هغه ټولو اُمتونو کښې کوم چې په خلقو کښې ظاهر شول، او هُم دوئي ئې اوَّل او هُم دوئي ئې آخِر اوساتلو او زما د پاره ئې زما ذِکر اوچت کړو او زما نه ئې نُبُوَّت شروع کړو او هم په ما باندې ئې نُبُوَّت ختم کړو." دا ئې چې واوریدل نو حضرت ابراهیم خلیلُ اللّٰه عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام ټولو انبیائے کرامو علیهِمُ السَّلام ته اوفرمائیل: "د دې

خبرو په وجه مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په تاسو ټولو افضل دے.“ بيا حُضُورِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سِدْرَةُالْمُنْتَهٰى ته تشريف يوړلو. بيا الله پاک د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره کلام اوفرمائيلو او دا ئي هم اوفرمائيل: ما ته د ټولو نبيانو نه وړومبے پيدا کړي او د ټولو نه پس مي اوليږلې او ته مې فاتِح او خاتَم (يعني برسيره کوونکے او د ټولو نه آخِري) کړې.

(تفسير طبري، ج: 8، ص: 9 تا 11 حديث: 22021، فتاوٰی رضويه، ج: 15، ص: 637 مختصراً وملتفطاً)

تم ہو اوّل، تم ہو آخِر، تم ہو باطِن، تم ہو ظاہِر
حق نے بخشے ہیں یہ اَسما، صلَّی اللّٰہُ عَلَیکَ وَسَلَّم

## د حُضُور په شونډو مبارکو به اَنَا لَهَا وي

﴿40﴾ چې کله خلق د ټولو انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلَام نه د شفاعت په معامله کښې مايوسه شي نو حضرت عيسٰى رُوحِ الله عَلَيْهِ السَّلَام ته به حاضِر شي او د شفاعت خواست به اوکړي، هغوئي به اوفرمائي: زه د دې مَنصب اَهل نه يم، (حضرت) محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خَاتَمُ النَّبِيِّين (يعني په ټولو نبيانو کښې آخِري) دے او دلته تشريف فرما دے. خلق به (د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) په خدمت کښې حاضر شي او شفاعت به غواړي زه به فرمايم: ”اَنَا لَهَا“ يعني زه د دې (کار) د پاره يم. (مسند ابو يعلٰى، ج:2، ص: 368، حديث: 2324، فتاوٰی رضويه، ج: 15، ص: 639 نه خلاصه)

کہیں گے اور نبی ”اِذْهَبُوا اِلٰى غَيرِى“
مِرے حُضور کے لب پر ”اَنَا لَهَا“ ہو گا

شَرحِ کلامِ حَسَنؔ: د قيامت په ورځ به خلق د نبيانو په دربارونو کښې د شفاعت خواست کوي نو ټول به فرمائي: ”زما نه علاوه د بل چا خوا له لاړ شئ.“ کله چې د هر ځائے نه مايوسه شي نو د الله پاک د ټولو نه آخِري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به

بارګاه کښې به د شفاعت د خير غوښتلو د پاره حاضِر شي نو ارشاد به اوشي: (آؤ آؤ) [هُم] زه د دې کار د پاره يم.

دے دے شفاعت کی مجھے خیرات خیر سے روز قیامت بخشوا، اے آخری نبی

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## هيڅ ئې پټ نه کړل خو... (واقِعه)

تابِعي بُزُرګ حضرت کَعبُ الأحبار رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: زما والِد د تورات شريف په عِلم لرونکو کښې د ټولو نه زيات عِلم لرلو، اَللّٰه پاک چې څه په حضرت موسٰی عَلَيۡهِ السَّلَام باندې نازل کړي وو، د هغې عِلم زما د والِد همره د چا سره هم نه وو، هغوئې به په خپل عِلم کښې زما نه هيڅ هم نه پټَوَل، کله چې د هغوئې آخِري وخت راغے نو زه ئې را اُوغوښتم او اوئې وئيل: اے زما ځويه! تاته معلومه ده چې ما په خپل عِلم کښې ستا نه هيڅ هم نه دي پټ کړي، خو آؤ دوه صفحات مې ساتلي دي، په هغې کښې د يو نبي بيان دے د چا د تشريف راوړلو زمانه چې رانزدې شوې ده، ما د دې ويرې په وجه تاته د هغه دوؤ صفحو خبر درنکړو چې شايد څوک (د نبي کيدو د دروغو دعویٰ کوونکے) راپاڅي او ته په هغه پسې روان شې، دا تاخ تاته مخامخ دے، ما په دې کښې هغه صفحات اېښودي دي او د پاسه مې پرې خاوره ليو کړې ده اوس دا صفحات مه ګوره، کله چې هغه نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف راوړي او که چرې اَللّٰه پاک ستا خير اوغوښتو نو ته به پخپله د هغوئې تابعداري کوونکے جوړ شې، دا ئې اووئيل او

وفات شولو. مونږ چې کله د هغوئي د خخولو نه فارغ شو نو د هر څه نه زيات شوق زما د هغه صفحو د کتلو وو، ما تاخ اوسپړدلو او چې صفحات مې راويستل نو څه ګورم چې په هغې کښې ليکلي دي:

مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ لَا نَبِيَّ بَعْدَهٗ مَوْلِدُهٗ بِمَكَّةَ وَمُهَاجَرُهٗ بِطَيْبَةٍ

يعني محمد د الله رسول دے، آخِري نبي دے د هغوئي نه پس بل نبي نشته، پيدائش به ئې په مکّه کښې (وي) او هغوئی د مدينے په لور هجرت کوونکے دے.

(خصائِص کبرٰی، ج: 1، ص:25)

بعد آپ کے ہرگز نہ آئے گا نبی نیا | وَاللہ! ایماں ہے مرا، اے آخِری نبی
ہے دَست بَستہ سَر جُھکا کر عرض سیِّدی! | تو خواب میں جَلوہ دکھا، اے آخِری نبی
آلائشوں سے پاک کرکے میرے دل میں تو | آجا سَما جا گھر بنا، اے آخِری نبی

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د صَحابهٔ کرامو او تابعينو 5 اِرشادات

## ﴿1﴾ د دوارو اُوګو ترمينځه تحرير (ليک)

صَحابيِ رسول حضرت جابر بن عبدُ الله رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: د حضرت آدم صَفيُ الله عَلَيْهِ السَّلَام د دوارو اُوګو په مينځ کښې ليکلے شوي دي: " مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ خَاتَمُ النَّبِيِّيْن " يعني: محمد د الله رسول او آخِري نبي دے.

(مختصر تاريخ دمشق، ج: 2، ص: 137، فتاوٰی رضويه، ج: 15، ص: 634)

## ﴿2﴾ چې هغه نه وي نو هيڅ به نه وي

صحابيِ رسول حضرت سَلمان فارسي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: حضرت جبريل اَمين عَلَيْهِ السَّلَام حاضر شو او حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته ئې عرض اوکړو: يَا رسولَ الله! ستاسو رَبّ ارشاد فرمائي: بے شکه ما په تاسو باندې انبيائے کرام عليهِمُ السَّلَام ختم کړل (يعني ته د تېولو نه آخِري نبي ئې) او داسې بَل څوک مې نه دے جوړ کړے کوم چې ستا نه زيات زما په نزد عزّت والا وي، ستا نوم ما د خپل نوم سره يو ځائے کړو چې چرته هم زما ذِکر کيږي چې ورسره ورسره هلته ستا ذِکر هم اوکړے شي، بے شکه ما دنيا او دنيا والا د دې د پاره جوړ کړل چې ستا عزّت او په خپله بارګاه کښې ستا مقام او مرتبه په هغوئي باندې ظاهره کړم، او که چرې ته نه وے نو ما به آسمان او زمکه او څه چې په دې کښې دي بالکل نه وے جوړ کړي.

(مختصر تاريخ دمشق، ج: 2، ص: 136، 137، مختصراً فتاوٰی رضويه، ج: 15، ص: 636)

ہے اُنھیں کے دم قدم کی باغِ عالَم میں بہار
وہ نہ تھے عالَم نہ تھا، گر وہ نہ ہوں عالَم نہیں

شَرحِ کلامِ رضا: د الله پاک د تېولو نه د آخِري نبي په وجه د تېولې دنيا ښکلا او سپرلي دې، که چرې زما خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دنيا ته تشريف نه وے راوړے نو دا دنيا به نه وه او نه به د دې وُجُود وو.

اے کہ تِرا وُجُود ہے' وجہِ قرارِ دو جہاں
اے کہ تِری نُمُود ہے' زینتِ بزمِ کائنات

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿3﴾ حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام ته پيغام

تابعي بزرګ حضرت عامِر شَعبي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: اللّٰه پاک چې په (حضرت) ابراهيم (خليلُ الله عَلَيْهِ السَّلَام) باندې کومې صحيفې[6] (يعني آسماني کلام) نازل کړې وو په هغې کښې دا هم وو: بے شکه ستا په اولاد کښې به پرله پسې ډيرې قبيلے وي تر دې پورې چې نبي اُميّ (يعني په دنيا کښې د چا نه لوستلو نه بغير لوستلو والا نبي)، خاتَمُ الاَنبيا (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) به تشريف راوړي.

(الطبقات الکبرٰی لا بن سعد، ج: 1، ص: 130، فتاوٰی رضويه، ج: 15، ص: 635)

اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي:

ایسا اُمّی کس لئے مِنت کشِ اُستاد ہو
کیا کِفایت اس کو اِقْرَاْ رَبُّکَ الْاَکْرَمْ نہیں

شَرحِ کلامِ رضا: د اللّٰه پاک خوږ خوږ آخِري نبي، مکّي مدَني، مُحَمَّدِ عَرَبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته اللّٰه پاک پخپله [سبق] لوستلے دے د کومې ذِکر چې د ديرشمې سيپارے په سُورَةُ العَلَق کښې موجود دے، چې کله هغوئي ته اللّٰه پاک پخپله [سبق] لوستلے دے نو بيا هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ولې د دنيا د استاذ اِحسان واخلي. او د هغوئي ”اُمّي“ کيدل ډيره لويه مُعجزه ده چې هغوئي په دنيا کښې د چا نه هم [څه سبق] نه دے لوستلے خو هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د دنيا ټول عُلُوم حاصِل دي.

## ﴿4﴾ حضرت اَشعِيا عَلَيْهِ السَّلَام ته وَحي

تابعي بزرګ حضرت وَهب بن مُنَبِّه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: اللّٰه پاک خپل خوږ

---

[6] ”صحيفه“ په لُغت کښې هغه اوراقو (پاڼرو) ته وئيلے شي په کومو باندې چې د اللّٰه پاک کلام ليکلے شوے وي، په اِصطلاح کښې هغه آسماني کلام دے کوم چې د رسالے په شکل کښې په نبيانو باندې نازل شوے وو. (نور العرفان، ص: 977)

نبي، حضرت اَشِعيا عَلَيْهِ السَّلَام ته وحي اوليږله چې زه نبي اُمّي ليږلو والا يم، د هغوئي په سبب (يعني ذريعه) باندې به کاڼه غوږونه او غافِله زړونه او ړندې سترګې برسيره کړم، د هغوئي پيدائش به مکّه کښې، د هجرت کولو ځائے مدينه او د هغوئي بادشاهت به ”شام“ کښې دے، زه به ضرور د هغوئي اُمّت د ټولو اُمتونو نه کوم چې د خلقو د پاره ظاهر کړے شوي دي بهتر او افضل کړم، زه به د هغوئي په کتاب نور کتابونه ختم کړم او د هغوئي په شريعت به نور شريعتونه او د هغوئي په دين به ټول دينونه مکمل کړم.

(دلائل النبوة لا بی نعيم ص: 36، حديث: 33، الخصائص الکبرٰی، ج: 1، ص: 23، فتاوٰی رضويه، ج: 15، ص: 635)

کلیم و نجی مسیح و صفی خلیل و رضی رسول و نبی
عتیق و وصی غنی و علی ثنا کی زباں تمہارے لئے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ” د شام ملک د بادشاهت“ وضاحت

اے د آخِري نبي عاشقانو! اوس چې کوم حديثِ پاک بيان شو په دې کښې دا هم دي چې د الله پاک د خوږ خوږ آخِري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بادشاهت به په ”شام“ کښې وي، په دې باره کښې عاشقانِ صحابه و اهلِ بيت ته د فتاوٰی رَضَوِيَّه شريف نه يو مدني ګل وړاندې کووم: اعلیٰ حضرت، امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: حضرت اميرِ مُعاوِيه (رَضِیَ اللهُ عَنْهُ) خو اَوَّل مُلُوکِ اسلام (يعني د سلطنتِ محمديّه ورومبے بادشاه) دے د هُم دې طرف ته په توراتِ مُقدَّس کښې اشاره ده چې مَولِدُهٗ بِمَكَّةَ وَمُهَاجَرُهٗ طَيبَةَ وَمُلكُهٗ بَالشَّامِ يعني ”هغه نبي آخِرُ الزَّمان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په مکّه کښې پيدا کيږي او مدينے ته به هجرت کوي او د هغه

بادشاهي به په شام کښې وي.“ نو د اميرِ مُعاوِيه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ بادشاهي اګرچه سَلطنت دے، خو د چا! د مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم .

(فتاوٰی رضويه، ج: 29، ص: 357)

| | |
|---|---|
| هر صحابيِ نبی! جنّتی جنّتی | تولي صحابياتي هُم! جنّتی جنّتی |
| څلور ياران د نبی! جنّتی جنّتی | حضرت صِدِّيق هُم! جنّتی جنّتی |
| او عمر فاروق هُم! جنّتی جنّتی | عثمانِ غنی! جنّتی جنّتی |
| فاطمه او علی! جنّتی جنّتی | حَسَن او حُسَين هُم! جنّتی جنّتی |
| والدين د نبی! جنّتی جنّتی | هره زوجهٔ نبی! جنّتی جنّتی |
| او ابوسُفيان هُم! جنّتی جنّتی | دے معاويه هُم! جنّتی جنّتی |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿5﴾ حضرت يعقوب عَلَيْهِ السَّلَام ته وَحي

تابِعي بُزُرګ حضرت محمد بن كَعب قُرَظِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: الله پاک حضرت يعقوب عَلَيْهِ السَّلَام ته وَحي اوليږله: زه به ستا د اولاد نه پرله پسې بادشاهان او انبيائے کِرام عليهِمُ السَّلام ليږم تر دې پورې چې زه به د دې حَرَمِ مُحتَرَم والا نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوليږم د چا اُمّت چې به بيتُ الْمُقَدَّس اوچت جوړ کړي او هغه ”آخِري نبي“ دے او د هغه نوم ”احمد“ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے.

(الطبقات الکبرٰی لا بن سعد ج: 1، ص: 129، فتاوٰی رضويه، ج: 15، ص: 635)

# د خَتمِ نُبُوَّت

## متعلق نعرے

| | | | |
|---|---|---|---|
| مُحَمَّدِ مصطفٰے | د ټولو آخِري نبي | اَحمدِ مجتبیٰ | د ټولو آخِری نبي |
| د زړه سر د آمِنه | د ټولو آخِري نبي | شاهِ دو جهان | د ټولو آخِری نبي |
| تاجدارِ انبياء | د ټولو آخِري نبي | حبيبِ کِبريا | د ټولو آخِری نبي |
| شفيعُ الورا | د ټولو آخِري نبي | د ګنهګارو آسرا | د ټولو آخِری نبي |
| اِعتِقادِ فاطمه | د ټولو آخِري نبي | دے يقين د عائشه | د ټولو آخِری نبي |
| عقيده د صحابه | د ټولو آخِري نبي | عقيده د اهلِ بيت | د ټولو آخِری نبي |
| عقيده د غوثِ پاک | د ټولو آخِري نبي | عقيده د اولياء | د ټولو آخِری نبي |
| عقيده د ځوان او بُوډا | د ټولو آخِري نبي | د هر ماشوم عقيده | د ټولو آخِری نبي |

## دا رساله اولولئ او نورو له ئې ورکړئ

د غم ښادو په غونډو، اجتماعاتو، عُرسونو او د ميلاد په جلوسونو وغيره کښې د مَکْتَبَۃُ الْمَدِیْنہ چاپ شوې رسالے او په مدني ګلونو مشتمل پمفليټس تقسيم کړئ او ثواب اوګټئ، ګاهکونو ته د ثواب په نيت په ډالئ کښې د ورکولو د پاره په خپلو دکانونو کښې هُم د رسالو کيښودلو معمول جوړ کړئ، د اخبار خرخوونکو يا د ماشومانو په ذريعه د خپلې محلے په کورونو کښې د خپل وَس مطابق رسالے يا د مدني ګلونو پمفليټس هره مياشت رسوئ او دغسې په دې ذريعه د نيکئ دعوت عام کړئ او ډير ډير ثوابونه اوګټئ.

د غمِ مدينه، بقيع، بخښنې او بے حسابه په جنَّت الفردوس کښې د آقا د ګاؤنډ طلب ګار



17 ربيع الاوَّل 1444ھ

14-10-2022

- المَوت

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## نیک او لمونځ گزاره جوړېدو د پاره

هر زيارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښائے کښې کيدونکي د **دعوتِ اِسلامي** د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نيتونو سره توله شپه تيروئ ❁ د سُنّتو د تربيَت د پاره **مَدَني قافِلو** کښې عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "**فِکرِ مَدِينه**" په ذريعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يکم تاريخ ئې د خپل ښائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

**زما مَدَني مقصد:** "**ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي.**" اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "**مَدَني انعاماتو**" عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "**مَدَني قافِلو**" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ







فيضانِ مدينه محلّه سوداگران زړه سبزي منډئ، بابُ المدينه (کراچئ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com